# د ارمیا مرثیه

## د کتاب پېژندنه

د مرثیه کتاب د پنځو غمجنو شعرونو یوه مجموعه ده چې د بابلیانو له خوا د اورشلیم د کلابندۍ او وېجاړولو او د هغه د اوسېدونکو د جلاوطنۍ تصویر بیانوي. که څه هم دا کارونه د بابلیانو له خوا ترسره کېدل، خو خدای له هغوی څخه د یوې وسیلې په توګه کار اخیسته، ترڅو د خپل لوظ د ماتولو په خاطر خپل خلک تر قضاوت لاندې ونیسي او سزا ورکړي. ویجاړتیا په هرچا اغیزه کوي، که شتمن وي یا غریب، مشر وي یا معمولي کس.

دا شعرونه لومړی د خدای د خلکو غم د کونډې ښځې د غم په شان بیانوي (لومړی فصل). په درېیم فصل کې د یو غمځپلي سړي له خوا د هغوی استازیتوب کیږي او په وروستي فصل کې خلک د خدای د رحمت دپاره دعا کوي. دوهم فصل د خلکو د ګناه له امله د اورشلیم سقوط بیانوي او څلورم فصل د بابلیانو د کلابندۍ ناوړه اغیزې بیانوي.

که څه هم د ګناه په هکله خدای سم قضاوت کوي، خو هغه د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رحم د ښودلو دپاره هم وفادار دی. د کتاب په دریم فصل ۲۲ – ۲۴ ایتونو کې لیکوال د خدای د رحمت په بنسټ د راتلونکي دپاره هیله څرګندوي. د مثال په توګه: هر سهار د هغه رحم وي تازه، وفاداري ده ډېره زیاته د هغه (۳:۲۳).

## د موضوعګانو لست


د اورشلیم غمونه: لومړی فصل

د اورشلیم سزا: ۲ فصل

سزا او هیله: ۳ فصل

د اورشلیم په کنډوالو کې: ۴ فصل

د رحم دپاره دعا: ۵ فصل




Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

## د اورشليم غمونه

١ ښنګه يو وخت ډک ؤ اورشليم له خلکو

ښنګه اوس دی خالي شوی هغه له خلکو

يو وخت نړۍ کې يې درلود عزت

اوس هغه دی لکه د کونډې په شان

هغه يو وخت ؤ د ملکې په شان

اوس شو هغه لکه د وينځې په شان

٢ ټوله شپه ژاړي هغه

اوښکې يې بهيږي په مخ

د پخوانيو ټولو عاشقانو نه يې

يو يې هم نه دی پاتې چې ورکړي تسلي

ملګرو يې وکړلو خيانت ورسره



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او اوس يې ټول دي دښمنان

۳ د یهودا خلک دي د بېوسه غلامانو په شان

چې ویستل شوي د خپل وطن څخه په زوره

هغوی اوسیږي نورو قومونو منځ کې

او نه لري ځای د ارام دپاره

راایسار شوي د دښمنانو له خوا

نه لري هغوی د تېښتې لاره

۴ خالي شوې د ماتم په خاطر هغه لارې چې صهیون خواته ځي

او په سپېڅلو ورځو کې هېڅوک نه ورځي هلته عبادت دپاره

کومو پېغلو چې سندرې به یې ویلې هلته دي اوس غمجنې هغوی



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او کاهنان یوازې کاندي زګېروي

خالي ولاړې دروازې دي د ښار

او اخته دی په عذاب باندې صهیون

۵ کامیاب شوي دښمنان د هغې

هغه یې راوستله د خپل واک لاندې

ځکه ښتن ورکړې ده سزا هغې ته

د ټولو سرکښیو په خاطر

نیول شوي اولادونه د هغې

او یووړل شوي اسیرانو په توګه

۶ شان او شوکت د ګران اورشلیم دی تللی

نشته دی نور هغه شان او شوکت د هغه

د هغه مشران دي د هوسۍ په شان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی نه مومي څرڅای د خپل ځان دپاره

هغوی ورکړی خپل قوت له لاسه

او تبنتېدلی نه شي د ښکاریانو څخه

۷ اورشلیم چې اوس پروت دی ویجاړ

او دي خلک یې سرګردانه

رایادوي خپل پخوانی شان او شوکت

کله چې ورغلل هغوی د خپل دښمن لاس ته

هېڅوک نه ؤ چې وکړي کومک ورسره

چا چې ورکړې وه اورشلیم ته ماتې

کوي خندا یې بربادۍ پورې

۸ اورشلیم ده کړې لویه ګناه

نو ناپاکه شوې هغه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومو خلکو چې یې کاوه یو وخت عزت د هغې

اوس هغې ته ګوري په سپکه سترګه

ځکه لیدلی یې دی د هغې لوڅوالی

هغه کوي زګېروی

او پټوي خپل مخ له شرمه

٩ په ښکاره لیدل کېدله ناپاکي د هغې

خو فکر نه کاوه هغې د خپل پای په هکله

ډېر ویرونکی دی زوال د هغې

هېڅوک نشته چې ورکړي تسلي هغې ته

اورشلیم وایي ما سره مرسته وکړه ای ښتنه

ګوره چې زه څومره کړېږمه ماتې راکړي دښمنانو راته

١٠ دي لوټ کړي دښمنانو



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

د اورشليم خزانې

منع کړي وو ښځېنتن پردي خلک

چې ورننوځي د هغه کور ته

خو وليدل د اورشليم خلکو

چې هغوی ورننوتل د ښځېنتن کور ته

(۱۱) کوي زګېروي د اورشليم خلک

د يوې مړۍ ډوډۍ دپاره

اخلي دوی خواړه د خپل قيمتي شيانو په بدل کې

ترڅو ژوندي پاتې شي

ښار وهي چيغې چې ای ښځېنتنه

ما ته وګوره چې څومره سپک شومه زه

(۱۲) ای تاسو ټولو لاروېو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایا ارزښت نه ورکوئ زما حال ته

ووینئ او وګورئ

نه دی راغلی په هېڅ کله هم داسې درد او غم

کوم چې راغلی په ما

داسې یو درد چې راوستلی دی څښتن په ما

د خپل قهر په وخت کې

۱۳ راولېږلو اور له اسمانه هغه

داسې اور چې زما د بدن په هډوکو کې شو بل

کېښودلو دام زما پښو ته هغه

او ویې نیوله زما د تللو مخه

خدای پرېښودمه زه

او یمه تل اخته په درد باندې



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ وتړل شول په جغ کې ګناهونه زما

وکړ ښبتن دا کار

هغه يې وتاړه زما په غاړه باندې

او زه يې کړم کمزورې

ورکړم ښبتن زه خپل دښمن ته په لاس

او زه وم بېوسه د هغوی په وړاندې

۱۵ ښبتن پرېښودل زما ټول زړور عسکر

هغه راولېږه لښکر چې کړي نابود زما ځوانان

هغه زما ګران د يهودا خلک کړل ترپښو لاندې

لکه انګور چې کري ترپښو لاندې ښوک په خم کې

۱۶ نو ځکه ژاړمه زه

او اوښکې تويېږي مې له سترګو ښخه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نشته هېڅوک چې راکړي تسلي

داسې څوک نشته چې راکړي همت

برى موندلى دښمنانو په مونږ

او د ماشومانو مې نشته راتلونکى

١٧ کومک دپاره اوږده کړي خپل لاسونه صهيون

خو هېڅوک نشته چې ورکړي تسلي هغه ته

څښتن راغوښتي دښمنان د اسراييلو

له هرې خوا څخه په ضد د هغه

هغوى کوي اورشليم سره داسې چلند

لکه چې کوم ناپاکه شى وي هغه

١٨ څښتن چې راکوي ما ته کومه سزا

نو دى په حقه هغه ځکه چې کړې ده



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سرکښي ما د هغه په وړاندې

خو ما ته غوږ ونیسئ ای د نړۍ خلکو

وګورئ څومره سخت کړېږمه زه

پېغلې او ځوانان يې دي نيولي زما

او هغوی يې دي وړي په اسارت کې نور ملکونو ته

۱۹ ما کومک وغوښتلو خپلو عاشقانو څخه

خو هغوی وکړه دوکه ما سره

په ښار کې مړه پراته وو

کاهنان او مشران

هغوی خواړه لټول

د دې دپاره چې ژوندي پاتې شي

۲۰ ای څښتنه وګوره زما تکليف ته



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

زما روح دی په عذاب کې

له غمه مات شوی دی زړه زما

د ډېرې سرکښۍ په سبب

د اورشلیم کوڅو کې وژني دښمنان خلک

او ژوندي نه پاتې کیږي په کورونو کې هم

٢١ غوږ ونیسه زګېروي ته مې

خو نشته هېڅوک چې تسلي راکړي

کوم مصیبت چې راوستلی تا په ما باندې

په دې خوشحاله ټول دښمنان دي زما

راوله هغه ورځ چې وعده کړې ده تا

لکه څنګه چې کړېږمه همداسې وکړه دښمنان زما

٢٢ ورکړه سزا دوی ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خاطر د خپلو بدو عملونو

لکه چې ښنګه دې راکړله سزا زما د ګناهونو په خاطر

داسې سزا ورکړه هم هغوی ته

زیات دي زګیروي زما

ناارامه شوی مې دی زړه

## د اورشلیم سزا او ورانېدل

١ ښنګه ښبنتن پټ کړی دی له قهره

ګران اورشلیم د تورو ورېځو لاندې

او غورځولی یې دی له اسمان نه په ځمکه باندې

شان او شوکت د هغه

په کومه ورځ چې ؤ په قهر هغه

نو پرېښودلو هغه خپل کور چې شي تباه



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٢ ښمنتن تباه کړ په اسراییلو کې

هر یو کلی په بې‌رحمی سره

هغه کړلې ورانې کلاګانې

چې یې ساتلو یهودا له دښمنانو څخه

هغه کړل بې‌عزته

پاچاهې او حاکمان د هغه

٣ له غضبه یې کړ ټوټې ټوټې

ټول قدرت د اسراییلو

کله چې وکړه حمله دښمن په اسراییلو باندې

هغه ونه کړلو کومک

په اسراییلو باندې شو په غضب هغه

د داسې اور په شان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې يې برباد کړل هر څه

۴ لکه دښمن په شان يې مونږ

کړلو په نښه خپلو غشو باندې

هغه مړه کړل هغه خلک

چې وو ګران په مونږه

څښتن وښوده خپل قهر په اورشليم باندې

چې بلېده لکه د اور په شان

۵ څښتن تباه کړ اسراييل

لکه د يو دښمن په شان

د هغې ماڼۍ او کلاګانې يې

بدلې کړلې په کنډوالو باندې

هغه زياته کړه ژړا



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او انګولا د یهودا د خلکو

٦ په هغه ځای کې

چې ښځینه ته په کې عبادت کاوه مونږ

هغه یې کړ داسې ټوټې ټوټې

لکه یوه جونګړه چې راوغورځوي په باغ کې

هغه له منځه یووړل اخترونه او د سبت ورځې

هغه رد کړل د خپل قهر په زور پاچا او کاهنان

٧ ښځینه وویل دا قربانګاه نه ده زما

او رد یې کړ خپل کور

هغه ورکړه اجازه دښمن ته

چې راوغورځوي یې دېوالونه

لکه ښنګه چې مونږ عبادت په خوشحالۍ کولو



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

اوس وهي په کې د برې چيغې

٨ دا وه اراده د څښتن

چې وغورځوي د اورشليم دېوال

څښتن جوړ کړ پلان په غور سره

چې اورشليم بايد بيخي شي وران

دننني او بيروني دېوالونه د هغه

پراته دي اوس د کنډوالو په شان

٩ خاورو ډېرۍ کې دي پرتې دروازې

او دي اړمونه يې ټوټې ټوټې

تېروي ژوند اشراف او پاچا جلاوطنۍ کې

ورکول کېږي نه نور تعليم د شريعت

پيغمبران د څښتن له خوا



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه ويني نوره رويا

١٠ د اورشليم سپين ږيري

غلي ناست دي په ځمکه باندې

باد کړې يې دي خاورې خپلو سرونو باندې

او دي اغوستي هغوی د وير کالي

د اورشليم پېغلو له غمه

په ځمکه باندې ايښي خپل سرونه

١١ زما سترګې سترې شوې په ژړا باندې

دی زما روح په عذاب کې

ستړی شوی يم له غمه

د خپل قوم د تباهۍ په خاطر

د ښار کوڅو کې



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

بېهوشه کيږي کوچنيان او واړه ماشومان

١٢ وايي هغوی خپلو ميندو ته

چې مونږه وږي يو او تږي

پراته دي هغوی په کوڅو کې

د زخميانو په شان

غواړي شيدې هغوی خپلو ميندو نه

او ورو ورو ورکوي ساه

١٣ ای اورشليمه، ای ګرانه اورشليمه

زه تا ته څه ووايم

ای ګرانه صهيونه تا ته څنګه تسلي درکړمه

نه دی کړېدلی هېڅوک ستا په شان

داسې ژور دی ستا زخم لکه د بحر په شان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هېڅوک نشته چې درکړي شفا

۱۴ ستا پیغمبرانو لیدلې باطلې رویاګانې

بل هېڅ ویلی نه شي غیر له دروغو څخه

خپلو وعظونو باندې یې غولولی یې ته

او نه یې ده ښودلې هغوی خپله ګناه تا ته

مجبوروي تا دې ته چې وکړې داسې فکر

چې درته نشته اړتیا د توبې

۱۵ خلک چې تېرېږي د هغه ښار څخه

ورته ګوري په سپکه سترګه باندې

خوځوي خپل سرونه او وهي ملنډې

د اورشلیم په کنډوالو باندې او وایي داسې

ایا دا دی هغه ډېر ښکلی ښار چې خلک وایي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوړي خوشحالي ټولې نړۍ ته؟

١٦ ټول دښمنان وهي ملنډې په تا

او کوي له کرکې نه ډکې خبرې

چيچي خپل غاښونه هغوی

خاندي او وايي داسې

وو مونږه په تمه د داسې ورځې

په رښتيا اوس هغه ده راغلې

ګورئ ځنګه مو کړل تباه هغوی

١٧ څښتن چې کړې اراده وه د کوم کار دپاره

کړ يې ترسره هغه

لکه چې ځنګه پريکړه کړې وه د پخوا نه هغه

کړ يې نابود اورشليم په بې‌رحمۍ سره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمونږ دښمنانو ته يې ورکړ برى

خوشحال يې کړل هغوی زمونږ په ماتې باندې

۱۸ اى اورشليمه ستا دېوالونه دې وژاړي

ښبنتن ته په لوړ اواز

لکه چې ژاړي خلک د غم په وخت کې

بهيږي دې اوښکې شپه او ورځ لکه د سيند په شان

خپل ځان ستومانه کړه په غم او په ژړا باندې

۱۹ خو خو ځلې د شپې پاڅيږه له خوبه

او د خپل زړه حال ښبنتن ته ووايه

لاسونه پورته کړه وکړه د زړه نه سوال هغه ته

چې وکړي رحم هغه ستا په ماشومانو باندې

کوم ماشومان چې مري



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د لوړې نه هره کوڅه کې

۲۰ ای ښښتنه، ګوره!

ولې مونږ ته راکوې داسې سزا؟

ولې ښځې خوري غوښې

د خپلو ګرانو بچو چې زېږولي دي دوی؟

ولې ستا په سپېڅلي کور کې

وژل کیږي کاهنان او پیغمبران؟

۲۱ مړه پراته دي

په کوڅو کې ځوانان او زاړه

پېغلې او ځوانان زما

دي وژل شوي د دښمن په تورو

په هغه ورځ چې ته په قهر وې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی دې ووژل په بې‌رحمۍ سره

۲۲ تا دښمنان زما راوغوښتل لکه څنګه چې

راوبلل شي خلک مېلمستیا ته

چې وکړي حمله له هرې خوا په مونږ باندې

او څوک تښتېدلی او پاتی کېدلی نه شو

په هغه ورځ چې ته وې په قهر

هغوی مړه کړل ماشومان زما

کوم چې روزلي وو ما او ګران وو په ما

## سزا، توبه او هیله

۱ زه هغه څوک یم چې د څښتن د غضب له کبله

لیدلی مې دی رنځ او مصیبت

۲ هغه بوتلم په راښکلو باندې تورو تیارو ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او کړم یې مجبور چې ونه وینم رڼا نوره

۳ په رښتیا سره ټوله ورځ

هغه ما وهي بیا بیا

۴ تک شین کړی په وهلو وهلو سره بدن او پوستکی زما

او دي مات کړي یې هډوکي زما

۵ یم اخته کړی یې زه

په کړاوونو او سختیو کې

۶ زه یې مجبور کړی یم چې واوسېږم په تیاره ځای کې

هغه چا په شان چې وي مړ شوی ډېر پخوا

۷ داسې په دېوالونو کې یې راګېر کړم چې نه لرم د تېښتې لاره

زه یې تړلی یم په درنو زنځیرونو باندې

۸ خومره دعا او زاری چې کوم په لوړ اواز د کومک دپاره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو نه قبلوي ښبتن دعا زما

٩ ترلې يې ده لاره زما د تيږو په دېوالونو باندې

کله چې ګرځم نو تيندکونه خورم زه

١٠ هغه کوي انتظار لکه د خرس په شان چې حمله وکړي

راباندې ټوپ وهي لکه د پټ شوي زمري په شان

١١ کړم يې ګوښه هغه د لارې نه

کړم يې ټوټې ټوټې او بيا يې پرېښودمه

١٢ راوويستله هغه خپله لينده

او کړم يې په نښه زه په خپلو غشو باندې

١٣ ويې ويشتمه په زړه باندې

په خپلو غشو باندې

١٤ راپورې خاندي زما خلک



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وهي ملنډې په ما ټوله ورځ سندرو کې

١٥ هغه اخته کړمه زه داسې کړاو باندې

لکه چې شي څوک مجبوره دې ته چې وخښني تريخ
شی

١٦ هغه وسولاوه مخ زما په خاورو باندې

او مات يې کړل زما غاښونه په جغلو باندې

١٧ اخيستل شوې ده سوله ما نه

هېره ده خوشحالي زما نه

١٨ نور به ژوندی نه پاتې کېږمه زه

ما د لاسه دی ورکړی خپل توکل په ښښتن باندې

١٩ چې را په ياد کړمه خپل درد او سرګرداني

شي زما دپاره د ترخو زهرو په شان

٢٠ کوم هر وخت فکر د هغو په هکله



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او دی زما روح پرېشان

۲۱ خو چې کله کړم یو شی زه را په یاد

نو پيدا کيږي زما هيله

۲۲ نه تباه کېږو مونږ د څښتن تلپاتې مينې له کبله

ځکه چې تل به وي د هغه رحم

۲۳ هر سهار د هغه رحم وي تازه

وفاداري ده ډېره زياته د هغه

۲۴ وايم څښتن دی زما دپاره هر څه

نو زه لرم هغه ته هيله

۲۵ څښتن ښه کوي د هغو خلکو سره

چې کوي توکل په هغه باندې

چې کوي څوک رجوع هغه ته



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ نو بیا ښه ده زمونږ دپاره

چې وکړو انتظار په خاموشۍ سره

څښتن ته چې راکړي نجات مونږ ته

۲۷ ښه خبره دا ده چې زده کړو مونږ

د ستونزو جغ وړل په ځوانۍ کې

۲۸ کله چې اخته کړای شو په کوم تکلیف باندې

باید غلي او یوازې کښېنو

۲۹ باید سر ټیټ کړو او تسلیم شو

کېدای شي بیاهم پاتې وي کومه هیله

۳۰ که راکړي مونږ ته څوک څپېړه نو پرې یې ږدئ

او که کوي زمونږ سپکاوی باید چې ویې زغمو

۳۱ څښتن د تل دپاره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه پرېږدي مونږ

۳۲ کېدای شي راولي غمونه په مونږ خو مهربانه هم دی

ځکه چې زياته او تلپاتې ده د هغه مينه

۳۳ په دې نه خوشحالېږي هغه

چې اخته کړي مونږ په درد او غم باندې

۳۴ کله چې کېږي تريپنو لاندې د وطن بنديان

نو وي خبر ترې ښښتن

۳۵ کله چې د خدای تعالی په حضور کې

کېږي تريپنو لاندې حقونه د چا

نو وي خبر ترې هغه

۳۶ کله چې ښوک مخه نيسي په محکمه کې د انصاف

نو وي خبر ترې ښښتن



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۳۷ پرته د خدای له رضا

هیڅ امر نه شي کېدلی

۳۸ خیر او شر کیږي دواړه

د خدای تعالی په حکم

۳۹ کله چې ورکول کیږي یو انسان ته سزا د خپلې ګناه

نو ودې نه کړي شکایت لااقل ژوندی دی هغه

۴۰ راځئ چې وازمایو خپلې لارې د ژوند

او بیا وروګرځو د ښښتن خواته

۴۱ راځئ چې خلاص کړو خپل زړونه خدای ته

چې په اسمان کې دی او ورته پورته کړو خپل لاسونه

۴۲ کړي ده مونږه ګناه او سرکښي

او تا مونږ ونه بخښلو



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۴۳ ته وي په قهر نو په مونږ پسې شوې

مونږ دې ووژلو او رحم دې ونه کړ په مونږ

۴۴ ځان دې پټ کړلو په ورېځو کې

ترڅو وانه ورې دعا زمونږه

۴۵ مونږ نه ده جوړه کړې د چټليو ډېرى

د نړى د ټولو خلکو په منځ کې

۴۶ ټول دښمنان وهي ملنډې په مونږه

او کوي خبرې له کرکې نه مونږ سره

۴۷ مخ شوي يو مونږ د مصيبت او نابودى سره

وېرې او خطر کې مونږ خپل ژوند تېروو

۴۸ د خپل ګران قوم د تباهى په خاطر

د اوښکو سيندونه دې جاري زما د سترګو څخه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۹ اوښکې تویېږي زما

او نه ودرېږي هغه

۵۰ ترڅو وګوري څښتن د اسمان لاندې

او ووینې هغه حال زمونږه

۵۱ کله چې ووینم څه کړي دي دښمنانو د اورشلیم په ښځو

نو خفه کیږي زما زړه

۵۲ بېسببه یم ښکار کړی دښمنانو

لکه مرغۍ چې نیسي په دام کې

۵۳ زه یې وغورځولم ژوندی د اوبو ذخیرې ته

او وغورځولې تیږې یې زما په سر باندې

۵۴ راواوښتلې اوبه زما په سر باندې

او فکر مې وکړ چې مړ به شم ډېر زر



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۵۵ ای څښتنه، ما چیغې ووهلې ستا په نامه

کومک دپاره د اوبو د ذخیرې له تله

۵۶ کله چې سوال مې وکړ تا ته تا غوږ ونیوه زما فریاد ته

نو واورېده تا سوال زما

۵۷ نو راغلې ته نژدې او رادې کړ ځواب

ما ته دې ووېل چې مه وېرېږه

۵۸ تا وکړه دفاع زما د حقه ای څښتنه

او ودې ژغورلم له مرګه څخه

۵۹ کوم بد چې شوي ما سره هغه معلوم دي تا ته

ودې کړه پرېکړه زما په حق کې

۶۰ ته یې خبر څنګه بدل اخلي دښمنان زما نه

څنګه جوړوي دسیسې زما په وړاندې



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۶۱ تا اورېدلي چې څنګه کوي سپکاوی هغوی زما ای څښتنه

او يې خبر د دوی د ټولو دسيسو نه

۶۲ کوي ټوله ورځ خبرې دښمنان زما په هکله

او جوړوي زما په ضد پلانونه

۶۳ وګوره هغوی چې له سهاره تر ماښامه پورې

وهي ملنډې په سندرو کې په ما باندې

۶۴ په اندازې د خپلو عملونو

ورکړه سزا هغوی ته ای څښتنه

۶۵ په هغوی باندې ووايه لعنت

او اخته کړه هغوی په کړاوونو باندې

۶۶ هغوی پسې شه د خپل قهر په وخت کې

او د ځمکې د مخ نه کړه نابود هغوی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د اورشليم دردونه او کړاوونه

١ ځنګه زمونږ سرو زرو ورکړې ده خپله ځلا له لاسه

ځنګه مو سوچه سرو زرو ورکړې خپل ارزښت له لاسه

د خدای د کور سپېڅلې او قيمتي تيږې دي پرتې

د هرې کوڅې په چوک کې خورې ورې

٢ قيمتي وو د صهيون خلک زمونږ دپاره

لکه سوچه سرو زرو په شان

خو ګڼل کيږي هغوی اوس لکه د خټينو لوښو په شان

چې جوړوي يې کلال

٣ سورلنډياني هم ورکوي شيدې

خپلو بچيانو ته



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو زما خلک دي د دښتې شترمرغانو په شان

چې کوي ظلم خپلو بچيانو باندې

۴ د تي رودونکو بچيانو ژبې له تندې څخه

نښلي په تالو باندې

ماشومان کوي سوال د خوړو دپاره

خو څوک يې نه ورکوي

۵ کومو خلکو چې يو وخت به يې خوړل ښه خوراکونه

اوس په کوڅو کې مري له لوږې څخه

چا چې تېرولو په عيش او عشرت کې خپل ژوند

اوس په خزلو کې خواړه لټوي

۶ زما د قوم سزا ده زياته

د سدوم له خلکو څخه



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شو وران هغه یوې شېبې کې

دا د انسان په وس کې نه ؤ

٧ زمونږ مشران وو د واورې څخه زيات پاک او سوچه

د شيدو څخه هم زيات سپين وو هغوی

بدنونه يې وو سره او سپين لکه مرجانو په شان

او څېرې يې ځلېدلې لاجوردو په شان

٨ خو مخونه يې اوس تور دي د سکارو په شان

او نه پېژندل کېږي په کوڅو کې

دي نښتي د دوی پوستکي په هډوکو پورې

هغه دي وچ شوي لرګيو په شان

٩ څوک چې مړه شوي وو په جنګ کې

بهتر له هغو وو چې مړه شولو ورو ورو د لوږې څخه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې د پټیو ښخه یې

نه لرل خواړه چې پرې ژوندي پاتې شي

١٠ په هغه وخت کې

چې مې ګران قوم مړ کېده له لوږې

زړه‌سوانده میندو

پخول خپل اولادونه د خوراک دپاره

١١ ښتن نازل کړلو

پوره قهر او غضب

او ویې لګولو په صهیون داسې اور

چې ویې سوځول بنیادونه ورته

١٢ نه پاچاهانو د نړۍ

او نه د کوم قوم خلکو دا باور کولو



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې دښمنان به يې ورننوځي

د اورشليم په دروازو باندې

۱۳ خو دا کار وشو ځکه چې وکړه ګناه پيغمبرانو

او کاهنان وو مجرم

چې تويه يې کړله وينه اورشليم کې

د بې‌ګناه خلکو

۱۴ ګرځېدل به پيغمبران او کاهنان

سرګردانه په کوڅو کې لکه ړندو په شان

داسې په وينو وو ککړ

چې چا به د هغوی کاليو ته لاس نه وروړ

۱۵ خلکو وهلې به چيغې لېرې شئ ای ناپاکه سړيو

مونږ ته مه راوړئ خپل لاس



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نو ګرځېدل به فراري او سرګردانه

او تلل به د يو قوم نه بل قوم ته

خلکو ويل به ورته نور نه شئ پاتې کېدلی دلته

۱۶ خښتن په خپله کړل هغوی خواره واره

نور يې پروا نه لري

د کاهنانو نور عزت نه کېده

او هم د سپينږيرو درناوی نه کېده

۱۷ مونږ انتظار کولو

خو رانغلل هېڅوک کومک دپاره

مونږ وو منتظر داسې قوم ته کومک دپاره

چې ويې نه کړلو هېڅ مونږ سره

۱۸ په هر قدم کې مونږ دښمن څارلو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په کوڅو کې ګرځېدلی نه شولو

زمونږ د ژوند ورځې رسېدلې وې پای ته

او رانژدې شوی ؤ مرګ زمونږه

۱۹ د عقاب نه تېز وو دښمنان زمونږه

چې تښتېدلو غرو ته نو تعقیبولو یې مونږه

که مونږ به پټ شولو په دښته کې

نو هلته به ناست وو په کمین کې مونږ ته

۲۰ هغوی د څښتن خوښ کړی پاچا ونیولو په دام کې

هغه څوک چې ؤ زمونږ د ژوند هیله

هغه چا باندې چې مونږ باور پرې درلود

چې ساتې به مونږ له پردې قوم څخه

۲۱ ای د ادوم او عوص خلکو



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ښومره چې کولای شئ هومره خندا او خوشحالي
وکړئ

خو وښبئ باید تاسو هم د هغه جام ښخه

چې دی ډک د ښبتن د قهر ښخه

تاسو به نشه شئ لوښ به کړئ ښپل ښان او وبه
شرمیږئ

۲۲ ای صهیونه ودې لیدله سزا د ښپلې ګناه

جلاوطنی کې به ښبتن تا نه ساتي نور

خو ای ادومه ښبتن به درکړي سزا

کړي به ښکاره د ګناه ډک عملونه ستا

## د رحم دپاره دعا

۱ ای ښبتنه ښه چې شوي دي زمونږ سره مه هېروه هغه

وګوره ښومره سپکاوی کړی دښمن زمونږه



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۲ زمونږ د نیکونو ځمکه ورکړل شوې ده پردو ته

اوسیږي پردي خلک زمونږ کورونو کې

۳ یتیمان او بېپلاره شوي یو مونږ

او کونډې شوې دي زمونږه میندي

۴ په بیه اخلو مونږ د ښښلو اوبه

په ګرانه بیه باید واخلو سوځولو لرګي

۵ زمونږ په سر دی پېټی او ځغلول شوي یو

ستړي شوي یو نه پرېږدي مو ارام ته

۶ لاړو مصر او آشور ته ګدایی دپاره

چې ډوډی راکړي او ژوندي پاتې شو

۷ وکړه ګناه زمونږ نیکونو او له منځه تللي هغوی

اوس کړېږو د هغوی ګناهونو په خاطر



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ غلامان کوي حکومت په مونږ باندې

او هيڅوک نشته چې مونږ خلاص کړي د هغوی له
لاسه

٩ مونږ اچولی په خطر کې خپل ژوند د ډوډی په خاطر

ځکه چې ګرځي په بانډو کې وسلهوال

١٠ له لوږې سوځو مونږ په تبه باندې

او سور دی زمونږ پوستکی د تنور په شان

١١ زمونږ ښځو سره شوې ده اورشليم کې په زوره زنا

او زمونږ پېغلو سره هم شوې ده يهودا ښارونو کې په
زوره زنا

١٢ د لاسونو نه ځړول شوي دي زمونږ مشران

او نه کيږي درناوی زمونږ د سپينږيرو مړو ته

١٣ مجبوروي زمونږ ځوانان چې وکړي کار مېچنې سره



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او زنګېږي زمونږ هلکان د لرګو درنو بارونو لاندې

۱۴ نه کښېني زمونږ سپينږيري

نور د ښار په دروازه کې

او ځوانان نه غږوي موسيقي نوره

۱۵ خوشحالي تللې زمونږ د زړونو ښخه

زمونږ ګډا بدله شوې ده په غم باندې

۱۶ رالوېدلی تاج د جلال او افتخار زمونږ سرونو نه

افسوس زمونږ په حال چې مونږ کړې ده ګناه

۱۷ نشته دی زور زمونږ په زړونو کې

او تياره راغلې زمونږ په سترګو کې د ژړا په خاطر

۱۸ ځکه چې پروت دی غر د صهيون وران او ويجاړ

او ګرځي راګرځي سورلنډيان په کې



Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ خو ای څښتنه، ته ابدي پاچا يې
او کوي پاچاهي ټولو نسلونو باندې

۲۰ ولې دې هېر کړو مونږه تل دپاره؟
ولې دې پرېښودو مونږ دومره ډېرو ورځو دپاره؟

۲۱ راوګرځوه مونږ خپل ځان ته ای څښتنه
ترڅو درشو بېرته
راوګرځوه مونږ بېرته پخواني حال ته

۲۲ ايا پرېښي يو تا مونږ په پوره توګه؟
او ايا په قهر يې بېحده ته په مونږ باندې؟